د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حــــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد

دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۲/ ذی الحجه/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۸/ جوزا/۱۴۰۵هـ، ش

# د څلور عزتمندو مياشتو تعيين او وضاحت، او د هغو د فضيلت بيان

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه، نحمده سبحانه وتعالى على نعمة الأمن والإيمان، والسـلامة والإسـلام، والهداية والاستقامة، ونسأل الله عزَّ وجلَّ المزيد من فضله، والعظيم الجليل من نعمه، ونُصلِّي ونُسلِّم على خير الانام ، نبينا محمد ، وعلى آله وصحابته ومن اتبع هداه، وعلى من سار واقتفى واهتدى بهداه عليه الصلاة والسلام.

أما بعد: فقد قال الله سبحانه وتعالى: (إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَات وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلاَ تَظْلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ) التوبة:(٣٦)

**درنو مسلمانانو او محترمو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

درنو مسـلمانانو! لکه چې الله جل جلاله په شپو کې ځينې بهتره شپې پيداکړي دی لکه د ليلة القدر شپه او د ذوالحجې لومړنۍ لس شپې او د محرم د مياشتې شپې او په ورځو کې يې ځينې ورځې بهتره پيدا کړي دي لکه د محرم الحرام لومړۍ لس ورځې او د ذوالحجې لومړۍ لس ورځې او د رمضـان المبارک آخري لس ورځې ، دارنگه د کال په دولسو مياشتو کې عزتمندي مياشتې پيدا کړي دي چې هغه څلور مياشتې دي.

شپې او ورځې ، مياشتې او کلونه الله جل جلاله د انسان د خدمت او دمسلمان د ژوند تنظيم او عباداتو د اداء کولو لپاره پيدا کړي دي ، نو موږ انسانانو لره پکار دي چې موږ د الله تعالی د ورځو او شپو، مياشتو او کلونو قدر او درناوی وکړو.

د قرآن کريم د موضوعاتو څخه يوه موضوع د عزتمندو مياشتو فضيلت او په نورو مياشتو برتري بيانول دي او لکه چې د جزيرة العرب مشرکانو د الله تعالی په عبادت او بندگۍ کې تغيير او تبديل راوستی ؤ، دارنگه د الله تعالی په مياشتو کې يې هم تغيير او تبديل رامنځ ته کړی ؤ.

الله تعالی د لمر سترگې ته حکم کړی دی چې په خپلو مدارونو کې څرخيږه او د الله تعالی له خوا په ټاکلي وخت راخيژه او په ټاکلي وخت پريوزه، ځکه چې ستا په راختلو او پريوتلو کې شپه او ورځ منځ ته راځي.

همدارنګه الله تعالی سپوږمۍ ته امر کړی دی چې په خپل مدار کې څرخیږه او په ټاکلي وخت کې راخیژه، څکه ستا په راختلو او پریوتلو کې میاشتې او کلونه منځ ته راځي.الله جل جلاله دولس میاشتې پیدا کړي دي، چې یو کال تشکیلوي، چې په دغو دولسو میاشتو کې څلور یې عزتمندې دي.دا هم د الله جل جلاله تعظیم دی ، چې ته د هغه څه احترام ، قدر او درناوی وکړې ، چې الله جل جلاله د کوم شي فضیلت بیان کړی دی او هغه لره یې خاص مقام او منزلت ورکړي وي.لکه د څلورو عزتمنو میاشتو تعظیم او درناوی کول.

الله تعالی د هغو خلکو قباحت او مذمت بیان کړی دی، چې د الله تعالی د عزتمندو میاشتو احترام او درناوی یې نه کولو او له ځانه یې په کې تقدیم او تأخیر راوستلی ؤ او په دغو عزتمندو میاشتو کې چې الله تعالی پر هغوی جنګ او قتال بند کړی ؤ، دوی به له ځانه په کې تقدیم او تأخیر راوستلو چې دا د الله تعالی په احکامو کې تغییر راوستل دي او ځان ته دتشریع حق ورکول دي.

الله جل جلاله د میاشتو په اړه فرمایلي دي:(إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَات وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلاَ تَظْلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ) التوبة:(٣٦)

ترجمه: بېشکه د الله په نیز د میاشتو (معتبر) شمېر دولس میاشتې دی، د الله په کتاب کې، په هغه ورځ چې هغه پیدا کړل اسمانونه او ځمکه، له هغو نه څلور (میاشتی) د حرمت والا دي، همدغه سم (نبغ) دین دی، نو تاسو په دغو کې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ .
د څلورو عزتمندو میاشتو څخه مراد ذوالقعده ، ذوالحجه ، محرم الحرام او د رجب المرجب میاشتې دي.
په حدیث شریف کې د څلوروعزتمندو میاشتو تعیین او وضاحت په دا ډول ذکر شوی دی: د ابو بکره رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:(إِنَّ الزَّمَانَ قَدْ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ). متفق علیه.
ژباړه: په تحقیق زمانه(وخت) واپس وګرځیده خپل اصلي حالت ته (یعني د جاهلیت د زمانې وړاندې کول او وروسته کول له منځه لاړل)، (هغه حالت ته) په کومه ورځ چې پیداکړل الله تعالی اسمانونه او ځمکه. کال دولس میاشتې دی چې په دې میاشتو کې څلور یې حرُمت لرونکي او عزتمندې میاشتې دي ، چې درې یې یو بل پسې متصل دی، چې هغه ذوالقعده ده، ذوالحجه ده او محرم الحرام میاشتې دي او بله د رجب میاشت ده، هغه د مضر قبیلې رجب میاشت ده ، هغه رجب چې د جمادي الآخر او د شعبان میاشتو ترمنځ واقع ده.

**توضیح:** په پورتني حدیث شریف کې ذکر شول چې عزتمندې میاشتې درې میاشتې داسې دي چې یو بل پسې پیوسته راځي، لکه ذوالقعده او دې میاشتې ته ذوالقعده ځکه وایې چې مشرکین به په دې میاشت کې د قتل او قتال څخه کیناستل او ورپسې د ذوالحجې میاشت راځي او ذوالحجه ورته ځکه وایې چې په دې میاشت کې به هغو حج کولو او ورپسې د محرم میاشت پیوسته راځي او دا میاشت په محرم ځکه ونومول شوه چې په دې میاشت کې به دوی له حج څخه خپلو کورونو ته په امنیت او حُرمت کې ګرځیدل .او یوه میاشت جدا عزتمنده ګرځول شوی ده چې هغه د رجب المرجب میاشت ده چې دا میاشت د جاهلیت په زمانه کې د عمرو د اداء کولو په خاطر مُحرَّمه ګرځول شوې وه. دا چې یوه میاشت جدا عزتمنده ګرځول شوې ده په دې باره کې د جاهلیت د زمانې دوه ډوله نظرونه لرل چې یوه عقیده د ربیعه قبیلې وه او بله عقیده د مُضَر قبیلې وه.

ربيعه قبيلې به ويل چې د رجب مياشت هغه مياشت ده چې د شعبان او شوال مياشتو ترمنځ واقع ده .يعنې د رمضان مياشت ته به يې رجب المر جب ويله . او بله د مُضَر قبيلې عقيده وه او دوی دا عقيده لرله چې رجب المرجب هغه مياشت ده چې د جمادی الأولى او شعبان ترمنځ واقع ده. کله چې اسلام راغی ، نو د اسلام مبارک دين د مُضَر قبيلې نظر تأييدکړ.

او د رجب المرجب مياشت د کال په منځ کې عزتمنده او مُحَرَّمه مياشت وګرځول شوه، ترڅو د جزيرة العرب د لرو منطقو خلک د بيت الله زيارت وکړي او عمرې اداء کړي او بيرته خپلو کورونو ته په امنيت کې وګرځي.تفسير ابن کثير / دار طيبة (٤/ ١٤٨)

په يو بل روايت کې د څلورو عزتمندو مياشتو لومړی مياشت رجب المرجب ذکر شوی ده. عَن ابْنِ عُمَر قَالَ: نَزَلَتْ هَذِهِ السُّورَةُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم بِمِنًى، وهُو فِي أَوْسَطِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ {إِذَا جاء نصر الله } ...أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خلق الله السماوات وَالأَرْضَ، وَإِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ: رَجَبُ مُضَرُ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ وَذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحَجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ». مسند البزار (١٢/ ٢٩٨)

ژباړه: د عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې د{إِذَا جاء نصر الله } سورت په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې نازل شو په داسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په منٰی کې ؤ د ايام تشريق په اوسطو ورځو کې په حجة الوداع کې ...(او رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل) ای خلکو! بيشکه زمانه وګرځيده خپل اصلي حالت ته(او د مشرکينو چې په کې کوم تغيرات راوستلی ؤ هغه لمنځه ولاړ) (او زمانه هغسې شوه) په کومه ورځ چې الله تعالی آسمانونه او ځمکه پيدا کړی وه او بيشکه شمير د مياشتو د الله تعالى په وړاندې دولس دی.

له دغو دولسو مياشتو څخه څلور يې عزتمندې مياشتې دي چې هغه رجب د مضر قبيلې ده کومه چې د جمادیَ او شعبان ترمنځ واقع ده او ذوالحجه ده او ذوالقعده ده او د محرَّم الحرام مياشت ده. التفسير من سنن سعيد بن منصور - مخرجا (٥/ ٢٤٩)

عربو په جاهليت کې هم دا څلور مياشتې عزتمندې ګڼلې او په دې مياشتو کې يې جنګ کول حرام ګڼلو ، تر دې پورې چې يو سړی به د خپل پلار د قاتل سره مخ شو ، هغه ته به يې کوم زيان او ضرر نه رسولو . تفسير ابن کثير (١/ ٤١٣).

مګر کله به چې هغوی په کومه مياشت کې جنګ کول وغوښتل ،نو په جاهليت کې به هغوی ځينې مياشتې وروسته کولې او ځينې به يې مخکې کولې ، نو ځينې به يې په يو کال کې ځان ته حلالې ګڼلې او د جنګ لپاره به يې د عزتمندې مياشتې په عوض بله مياشت حرامه او عزتمنده وګرځوله او په دې حيلې سره به يې ځان ته په محرمه مياشت کې جائز وګرځوله او کله به يې چې د جنګ کولو اراده نلرله ، نو بيا به دا څلور مياشتې په خپل ځای پريښودلې . الله تعالى ددوی دا کار او ددوی ناوړې حيله او ځان ته د تشريع حق ورکول سخت وغندلو او وه يې فرمايل:(إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِّيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ) التوبة:( ٣٧)

ترجمه: بېشکه چې دغه تاخیر ( د حرمت د يوې مياشتې بلې مياشتې ته) ډېروالی دی په کفر کې چې گمراه کولی شي په دې (عمل) سره هغه کسـان چې کافران شـوي دي حلالوي دوی دغه (حرامه میاشـت) يو کال (په کې جنگ کوي) او حراموي دوی (پرېږدي په حرمت) دغه(حرامه میاشت) بل کال (او دغه دنسي عمل کوي) لپاره د دې چې پوره کړي دوی شـمار د هغو میاشـتو چې حرامې کړي دي الله نو حلالوي (په زعم او عمل خپل) هغه میاشتې چې حرامې کړي دي الله ښایسته کړی شوي دي دوی ته ناکاره عملونه د دوی او الله نه ښیی سمه صافه لاره قوم کافرانو ته. د الله جل جلاله په وړاندې د دغو څلورو عزتمندو میاشتو ډېر لوی مقام او مرتبه لري او دا څلور میاشتې د الله تعالی په وړاندې ډېر لوی فضیلت لري. ددې وجی نه په ټولو سماوي اديانو کې دغه څلور میاشتې عزتمندې میاشتې دي.

د څلورو عزتمندو میاشتو فضیلت او مرتبه دومره لويه ده چې الله تعالی په هکله وايي (ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ) دا څلور میاشتې کامل او مستقيم دين دی . او د (ذلک) ضمير د بعضې مفسرينو په نزد څلورو عزتمندو ته میاشتو ته راجع دی، ځکه چې د څلورو میاشتو ذکر ورته نږ دې دی.

په دې مبارک آيت کې (دين) د الله تعالی هغه نظام ته ويل کيږي چې خلک يې په قوانينو عمل کوي.التحرير والتنوير (٦/ ٣٥٢)

او ددغو څلورو میاشتو تعظيم په حقيقت کې د شعائر الله تعظيم دی. الله جل جلاله فرمايلي دی:(ذَٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ)الحج:( ٣٢)

ترجمه: دا حکم مو واورېد( يا امر همدا دی چې تېر شـــو) او هر چا چې تعظيم وکړ د علائمو د (دين د) الله (چې د حج افعال د هداياوو څربول او نور عبادت دي) پس بېشکه دا (تعظيم) د زړونو له تقوی څخه دي.

په څلورو عزتمندو میاشتو کې په خصوصي توگه په ځان ظلم کول او پر بل مسلمان ظلم کول شديداً حرام او ناورا دي.

په څلورو عزتمندو میاشـتو کې د گناه کولو عذاب زيات وي او د نيکيو کولو ثواب زيات وي. الله تعالی فرمايلي دي:(فَلاَ تَظْلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ) التوبه:( ٣٦).ترجمه:نو مه کوئ ظلم په دغو کې په ځانونوخپلو( په کولو دگناه).

په ځان ظلم کول گناه کول دي ، جرمونه کول دي ، ځکه چې د گناه او جرم سزا خپل نفس ته رسيږي.

يا داچې په اسلام کې په خپل مسلمان ورور باندې ظلم کول، په هغه تيری کول ، د هغه سره بې انصافي کول دا داسې ده لکه چې څوک په خپل نفس باندې ظلم او تجاوز کوي.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي چې ددې آيت (فلا تظلموا فيهن أنفسكم) په تفسير کې وايي: (ثم خصَّ من ذلك أربعة أشـــهر فجعلهن حُرُمًا، وعظّم حُرُماتهن، وجعل الذنبَ فيهن أعظم، والعمل الصـــالح والأجر أعظم). تفســـير الطبري(١٤ /٢٣٨)

ژباړه: بيا الله تعالی خاص کړلې ددغو دولسو میاشـتو څخه څلور میاشتې او هغه يې مُحرّمې وگرځولې او د څلورو میاشتو حرمت او عزت يې ډېر لوی وگرځولو او گناه کول يې په دغو څلورو میاشتو کې ډېره ستره گناه وگرځوله او د صالح عمل اجر يې ډېر لوی وگرځولو.

عن قتادة: أما قوله:(فلا تظلموا فيهن أنفسكم)، فإن الظلم في الأشهر الحرم أعظم خطيئةً ووِزْرًا، من الظلم فيما سواها، وإن كان الظلم على كل حال عظيمًا، ولكن الله يعظِّم من أمره ما شاء. وقال: إن الله اصطفى صَفَايا من خلقه، اصطفى من الملائكة رسُلا ومن الناس رسلا واصطفى من الكلام ذكرَه، واصطفى من الأرض المساجد، واصطفى من الشهور رمضانَ والأشـهر الحرم، واصـطفى من الأيام يوم الجمعة، واصطفى من الليالي ليلةَ القدر، فعظِّموا ما عظم الله).تفسير الطبري (١٤/ ٢٣٩)

ژباړه: امام قتاده رحمه الله ددې آيت(فلا تظلموا فيهن أنفسكم)، په تفسير کې وايي: بيشکه ظلم په عزتمندو مياشتو کې ډيره لويه خطاء او گناه ده نسبت په نورو مياشتو کې د ظلم کولو څخه ولو که ظلم په هر حالت کې لويه گناه ده ، مگر الله تعالی لويوي خپل حکم څومره چې يې خوښه شي. او بيا وايي بيشکه الله تعالی غوره کړل په مخلوق کې ځيني سپيڅلي ، د ملائکو څخه هغه رسالت وړونکو ملائکې غوره کړي دي او په انسانان کې يې رسولان غوره کړي او په خبرو کې يې ذکر کول غوره کړی دی او په ځمکه کې يې غوره کړي دي مساجد او په مياشتو کې يې غوره کړی ده د رمضان المبارک مياشت او (څلور) عزتمندې مياشتې او غوره کړ يې ده په ورځو کې د جُمعې ورځ او په شپو کې يې غوره کړی ده د قدر شپه ، نو تاسې هم تعظيم وکړئ او لوی وگڼئ هغه څه چې الله تعالی عظيم او لوی پيدا کړی دی.

په شريعت کې دا يو اصل دی چې د گناه سزا د زمان او مکا په لحاظ سره درنيږي او همدارنگه د صالح عمل ثواب د زمان او مکان په لحاظ سره زياتيږي. هغه څوک چې په محرمو مياشتو کې يا د سوال د اجابت په وخت کې گناه وکړي د هغه سزا هم درنه او سنگينه ده.يا لکه څوک چې په حرمَينُو کې يا په مسجد کې گناه وکړي، د هغه د گناه سزا درنه او زياته ده نسبت هغه چاته چې په عامو ځايونو کې گناه وکړي . همدارنگه څوک چې په حرَمَينُو کې عبادت وکړي او يايې په عزتمندو مياشتو کې عبادت وکړي د هغه ثواب زيات او څو چنده دی. التحرير والتنوير (١٠/ ١٨٦).

بل داچې څلورو عزتمندې مياشتې د ډيری عباداتو موسم دی او په دغو مياشتو کې ډيری غوره او بهتره ورځې موجوددي.

د رجب المرجب مياشت د رمضان المبارک مياشتې لپاره دتياری نيولو مياشت ده.

امام ابن رجب رحمه الله وايي:( شهر رجب مفتاح أشهر الخير والبركة) لطائف المعارف لابن رجب، ص١٢١.ژباړه: د رجب مياشت د خير او برکت مياشتو کيلي ده.

امام ابوبکر الوراق رحمه الله وايي:«شهر رجب شهر للزرع، وشعبان شهر السقي للزرع، ورمضان شهر حصاد الزرع» رطائف المعارف لابن رجب، ص١٢١.

ژباړه: د رجب مياشـت د حاصـل د کرلو مياشـت ده او د شعبان مياشت د فصل د خړوبولو مياشت ده او رمضان د فصل د ريبول مياشت ده.

او د ذوالقعدې او ذوالحجې په مياشتو مسلمانان د اسلام پنځم رکن او د اسلام ستر عبادت حج اداء کوي .لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ).البقرة:( ١٩٧) ترجمه: حج څو مياشتې معلومې دي

او په څلورو عزتمندو مياشتو کې هغه لس ورځې موجوددي، چې الله تعالی ورباندې قسم ياد کړی دی. او فرمايلي يې دي: والفجر وَلَيَالٍ عَشْرٍ).الفجر:( ١-٢) امام مسرق رحمه الله وايي: چې دا د کال تر ټولو افضله ورځې دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغو لسو ورځو کې نيک او صالح عمل د جهاد في سبيل الله څخه هم غوره گڼلی دی.نبي عليه السلام فرمايلي دي: «مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ الْعَشْرِ"، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، فَقَالَ رَسُولُ صلى الله عليه وسلم: "وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ». سنن أبی داود-ن (٢ /٣٠١)

ژباړه: نشته داسې ورځې چې وي صالح عمل ډير خوښ الله تعالی ددې لسو ورځو (د صالح عمل ) څخه . صحابه کرامو وويل: ای دالله رسوله! جهاد هم ددې ورځو د نيک عمل څخه غوره نه دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: او نه دی جهاد في سبيل الله غوره ددې ورځو د نيک عمل څخه ، مگر که چيرې يو سړی ووځي (په جهاد فی سبيل الله کې) په خپله او د خپل مال سره او را ونه گرځي ددې څخه کوم شی.

په څلورو عزتمندو مياشتو کې د عرفې ورځ موجوده ، چې مطلقاً تر ټول ورځو بهتره او افضله ورځ ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم به خپلو اصحابو ته په دې مياشتو کې د روژو نيولو امر کولو .

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مُجِيبَةُ الْبَاهِلِيَّةِ پلار ته يا تره ته وفرمايل:« صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ ». سنن أبی داود-ن (٢ /٢٩٨) ژباړه: دعزتمندو مياشتو روژه ونيسه او بيا يې پريږده، د عزتمندو مياشتو روژه ونيسه او بيا يې پريږده ، د عزتمندو مياشتو روژه ونيسه او بيايي پريږده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم څلور عمرې کړي دي او څلور واړه يې په عزتمندو مياشتو کې کړي دي.

په څلورو عزتمندو مياشتو کې د محرم لومړی لس ورځې موجود دي او په څلورو عزتمندو مياشتو کې د عاشورا ورځ موجودده ، چې د عاشوراء روژه د تير کال گناهونه رژوي.

په څلورو عزتمندو مياشتو کې د قربانۍ ورځ او د تشريق ورځې موجوددي چې ددنيا په ورځو کې غوره ورځې دي.

په حديث شريف کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « إِنَّ أَعْظَمَ الأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ ». سنن أبی داود-ن (٢ /٨٢)

ژباړه: بيشکه په ټولو ورځو کې لويه ورځ د الله تعالی په وړاندې هغه د قربانۍ ورځ ده او بيا د اختر دوهمه ورځ ده.

**وصلى اللهُ وسلم على نبيّنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**